# رحمان بابا او تصوف

- د رحمان بابا د ژوند په اړه لا تر اوسه پوري بشپړه معلومات نه دي موندل سوي، او كه څه معلومات راوړل شوي دي، په هغو كښي اختلافات ليدل كيږي.
- لكه رحمان بابا كله او چرته زيږيدلى دى، زده كړه يې څنګه تر سره كړي ده، يو عملي صوفي وو، او كه يې عرفاني شعرونه د يوه طبيعي او فطري تصوف ښكارندويي كوي.

- په دې هكله باندي دلته له بېلا بېلو سرچينو څخه د رحمان بابا د زيږيدنې، ژوند، كور، كلي، نسب او مړينې په اړه لنډ معلومات راوړو.

# د رحمان بابا دژوند په اړه لنډ معلومات

- د رحمان بابا خپل نوم عبدالرحمان دی، خو په شعر کښې د تخلص په توګه باندې يې کله کله رحمان هم ليکلئ، او په ځينو شعرونو کښې يې پوره نوم عبدالرحمان هم ليکلی دی.
- د پلار نوم يې عبدالستار وو.

## نسب:

- راج ولي شاه خټک د( رحمان په شعر) کښې د ده د نسب په هکله داسې ليکي:
- رحمان بابا سړبن پښتون دی، په سړبن کښې غورياخېل او په غورياخېلو کښې مومند دی.
- خواجمل ښکلی په خپل ليکې اثر(تصوف او ادب) کښې د رحمان بابا د نسب په اړه داسې معلومات وړاندې کوي:

# د رحمان بابا دژوند په اړه لنډ معلومات

- رحمان بابا –  په قوم مومند، په مومندو کې ابراهیم خیل او په ابراهیم خیلو کې دوړزی دی.
- پښتنو شاعرانو ده ته کله د لسان الغیب، سلطان االشعرا او واف (بلبل) لقبونه ورکړي دي.

## کور او کلی

- مېجر راورتي، د رحمان بابا کلی هزار خوانی۔ یاد کړئ دی.
- پادري هېوز، د رحمان بابا کلی، بهادر کلی
- او دوست محمد کامل د هېوز په روایت د رحمان بابا کلی، بهادر کلی یادوي.

# د رحمان بابا دژوند په اړه لنډ معلومات

- راج ولي شاه خټک لیکي چې د رحمان بابا په دیوان کښي داسي هیڅ داخلي شهادت یا سند نشته چې د رحمان بابا د کلي نوم دي ځيني ښکاره سي. او دا لوړ یاد نوموړنه د اولسي شهادتونو په رڼا کښي راوړل سوي دي.

- د رحمان بابا د زیږیدو نیټه:

- د پټې خزانې مولف: د رحمان بابا د زیږیدو او مړينې نیټه (۱۱۲۸–۱۱۱۸–۱۰۴۲) هجري کالونه په ګوته کړي دي.

# د رحمان بابا دژوند په اړه لنډ معلومات

- خو دوست محمد کامل یې د زیږیدو نېټه ۱۰۶۳ کاله اټکل کړې ده.
- سید تقویم الحق کاکاخېل یې د زیږیدو نېټه ۱۰۶۴ هجري د دیوان د داخلي شهادت په بنیاد باندې ټاکلې ده.

د رحمان بابا مزار :

- د رحمان بابا مزار د پېښور ښار و سوېل اړخ ته د هزار خانۍ کلي په هدیره کښې دی.

# تصوف او شاعري

- **Without poetry, mysticism is superstition, without mysticism, poetry is – prose:**

Lev Tolstoy

- **د شاعري پرته تصوف وهم دی، او د تصوف پرته شاعري –نثر دی.**

**لیو ټالسټائی**

# رحمان بابا او تصوف

- د رحمان بابا د تصوف په هکله د لیکوالو او پوهانو په مینځ کښي اختلاف لیدل کیږي:
- ځیني پوهان او لیکوال داسي نظر لري چي رحمان بابا یو صوفي شاعر وو:
- خو نور لیکوال له دې سره متفق نه دي.
- لکه: د رحمان په شعر کښي راج ولي شاه خټک د حمان بابا د تصوف په اړه داسي لیکي:
- رحمان بابا یو صوفي شاعری دی، او په خپلو شعرونو کښي د اسلامي تصوف د فلسفې جداجدا مکتبه فکر تصور راوړي. (مخ ۲۵)

# رحمان بابا او تصوف

- مګر اجمل ښکلی د رحمان بابا د تصوف په اړه داسي نظر لري:

که څه هم ځيني پوهان رحمان بابا لوی صوفي بولي او عبدالحليم اثر يې د تصوف د کبرويه طريقې پيرو بولي، خو دی په تصوف کې کوم لويو پوړيو ته نه دی رسيدلی، بلکې عرفاني شعرونه يې د يوه طبيعي او فطري تصوف ښکارندويي کوي، چي په دې کې د خدای له مخلوقاتو سره مينه هم راځي.

- دلته دا خبره هم د ذکر وړ ده چي د رحمان بابا له کلام څخه موږ دا ندازه نه شو کولی، چي د هغه مرشد وو او که نا، او که وو، هغه د کوم مکتبه فکر سره تعلق لرلو، چي رحمان بابا د هغه متابعيت کړئ وي. مخ ۲۵

# رحمان بابا او تصوف

- خو د رحمان بابا په دیوان کښي یو شعر داسې راغلی دی چي په دغه باب څه مبهم اشارت کوي، خو نور تفصیل نسته، شعر دا دی:

اور د جدایۍ په رحمان دی لګېدلی
وقت دی که مدد کړې یا میران محی الدینه

- بل ځای په یوه شعر کښي داسي وائي

هم پند اخلم هم پند وائیم و هرچاته
زه د ځنو یم مرید د ځنو پیر یم

# رحمان بابا او تصوف

- د دې شعرونو په رڼا کښې راج ولي خټک وائي:
- ولې د تصوف د پاره او بیا خاص په فني صورت کښې دا ضروري نه ده چې د هر صوفي شاعر دې مرشد خامخا وي...
- دا هم تصوف دی چې د خپل دین په رڼا کښې بنده ځان ته د خدای تعالی د کائنات ژوند او د ځان د تعلق په حقله غوروفکر وکړي. د خدای تعالی د موندلو هڅې او لټون وکړي...
- کله چې په صوفي د وحدت حال طاري شي او د دې مشاهدې نه پس د وحدت خیال په شعر کښې ځرګند کړي، او کله پرې د شهود غلبة راشي نو د شهود قائل شي.
- که چیرې په دې مقام موږ د رحمان بابا کلام ته وګوو نو هغه کله وجودي ښکاري او کله شهودي.

# رحمان بابا او تصوف

- د رحمان په دیوان کښي داسي ډیر شعرونه لیدل کیږي چي پر صوفیانه افکاره باندي دلالت کوي.
- لکه په یوه شعر کښي د مرشد په ضرورت زور راوړي، خو په واضح توګه د هیڅ یوه پیر نوم نه اخلي.

بې ریباره رسېدل ویار ته ګران دي
په کوڅه د مهرویانو رهبر بویه

- داسي ښکاري چي د ربیار په علامت کښې ویوه مرشد کامل ته اشاره کوي، یا دا د رحمان بابا د ذاتي تجربې اظهار دی.

# رحمان بابا او تصوف

- خو کله کله په تصوف کښي د طريقت په لاره د پير په ضرورت زور راوړي. لکه په يوه شعر کښي داسي اظهار کوي:

چې سبا ارمانوې پند د پيرانو
ولې نن د پير طلب نه کړې بې پيره

- حمزه بابا د رحمان بابا د تصوفي شاعري په اړه داسي نظر لري:

- موږ که د رحمان بابا د شاعرۍ نه هغه برخه وباسو کومه چي د تصوف سره تعلق لري. نو د رحمان بابا د کلام زکوات به هم لاس ته رانه شي. دهغه کلام نزدې نزدې ټول د تصوفي افکارو هينداره ده. او د يو نقاد او مبصر د پاره د دې نه سوا بله لار نشته چي د هغه په دې اړخ د زياتې نه زياته رڼا وغورځوي. (مخ ۲۹ )

# رحمان بابا او تصوف

- اوس د رحمان ځيني شعرونه راوړو، چي تصوفي افکار تمثلوي. رحمان بابا په يوه شعر کښي د وحدت مشاهده داسي کوي:

هر چي دي سېوا له خدايه
واړه وګڼه نابود

- د وحدت الوجود په مقراراتو کښي تر ټولو اساسي غوښتنه هم دا ده چي د خدای تعالی د ذات څخه پرته هر څه نابود ګڼل دي.
- لکه په لوړيا پورته شعر کښېيې اظهار شوی دی.

# رحمان بابا او تصوف

- خو کله چي د شهود مشاهده کوي:

دا زما د يار جلوه ده چې ليدی شي
لکه نمر په صومعه په سومنات

- يا

رحمان حسن د يار وينم په پرده کښې
نه پټېږي نور د حسن په فانوس